ليکوال او انځورګر: ويليم دی وينک


# عيسیٰ مسيح



هغه کس چې دُنيا ته بدلون ورکوی


عيسیٰ مسيح

## .... څه څیز دے



**ابدی ژوندون:** د عیسی سره ژوندون لکه څنګه چې خُدائ پاک اراده کړې ده. دا ژوندون پر مرګ غالِبه دے او هېڅ پاے نه لری (۲۳، ۳۰-۲۹ او ۵۹ مخونه).

**اِبلیس:** د خدای او انسانانو نه لیدل کېدونکی دشمن (د شیطان په نوم هم یادیږي).



**ایمان:** یعنې تاسو په خُدائ پاک باندې باور لرئ چې هغه څه کوی چې هغۀ د هغې وعده کړې ده (۵۸ مخ).

**برکت:** ټول هغه ښه شیان چې خُدائ پاک غواړی هغه خلقو ته ورکړی چې د هغۀ د غوښتنو سره سم عمل کوی.




**د ایسټر اختر:** هغه جشن دی چې د عیسی قیامت پکښې لمانځل کیږي. یهودیان په هماغه ورځو کښې د فسحې اختر لمانځي ( ۳۸- ۵۴ مخونه).

**د خُدائ پاک بادشاهی:** د خُدائ پاک بادشاهی هلته وجود لری چېرې چې خلق له هغه نه تابعداری کوی.




**د خُدائ پاک زوی:** د عیسی نوم. هغه مالِک خُدائ ؤو چې زمکې ته د بنی آدم په شکل او د خُدائ د زوی په توګه راغے.



**دُعا:** کله چې تاسو د خُدائ پاک سره په خاموشۍ یا په اوچت آواز سره خبرې کوئ او هغه ته غوږ نیسئ (۱۸، ۱۹، ۴۲ مخونه).

**روح القُدس:** د خُدائ پاک روح چې د هغې له لارې هغه غواړی په هغو خلقو کښې ژوندون وکړی چې د عیسی تابعداری کوی (۵۸ مخ).



**سولی:** د عذاب ورکولو هغه وسیله چې عیسی په خپله خوښه او مرضۍ سره د هغه د پاسه مُړ شولو. دا د عیسی د ټولو منونکو دپاره یوه نښه ګرځېدلې ده (۲۵، ۵۰ مخونه).

**عشاء ربانی:** د عیسی پیروان د مالِک خُدائ د غوره ماښامی په لمانځلو سره د هغه د مړینې او بیا ژوندی کېدلو یاد جاری ساتی (۴۱ مخ).

**عیسی:** د خُدائ پاک د زوی نوم، او معنی یې ده، "خُدائ نجات ورکوی".

**فرښته (ملایکه):** د خدای نه لیدونکی رسول (۵ مخ).

**قیامت:** عیسی له مړو نه ژوندے راپورته شو. یوه ورځ به ټول مړي بېرته راژوندی شی. بیا به خُدائ پاک د هر انسان عدالت کوی (۵۷-۵۳ مخونه).

**ګناه:** د هغو عملونو سرته رسول چې د خُدائ پاک د مرضۍ خِلاف وی او هغه مقصد ته د رسیدلو مخه ونیسي چې خُدائ زمونږ دپاره ټاکلے دے (۴ مخ).

**کتاب مقدس:** په کتاب مقدس کښې تاسو کولے شئ ولولئ چې مالِک خُدائ څرنګه خلقو ته نظر کوی او څنګه د هغو سره چال چلن کوی.


**مرید:** د عیسی ملګرے یا پَیرو (۱۸ مخ).

**مسیحا:** "مسح شوی بادشاه". مسیحا یوه عبرانۍ کلمه ده چې په یونانۍ ژبه کښې د «مسیح» په توګه ترجمه شوې ده (۵۲، ۵۵ مخونه).

**معافی:** مالِک خُدائ خلق معاف کوی، که څه هم هیڅوک یې حقداره نه دے. که تاسو په ریښتیا له خپلو ګناهونو نه پښېمانه یئ او غواړئ چې ځان بدل کړئ، نو خُدائ پاک به تاسو معاف کړی. معافی ممکنه ده ځکه چې عیسی هغه سزا په خپله غاړه واخیستله چې مونږ یې حقداره یو (۵۸ مخ).

**واپس راتلل:** کله چې عیسی زمکې ته واپس راشی، نو هرڅه به نوی شی. آسمان او زمکه به د خُدائ پاک لخوا نوی شی (۵۷ مخ).

## عیسی مسیح څوک دے؟



عیسی خواوشا ۲۰۰۰ کاله د مخه په اسراییلو کښې ژوند کاوه. مونږ هغه ته "مسیحا" یا "عیسی مسیح" وایو. یعنی هغه بادشاه دے. په هرصورت، هغه صرف یو بادشاه نه دے. عیسی ته د "خُدائ پاک زوئ" او "اِبن آدم" هم ویلے کیږی. دا پدې معنی ده چې هغه خُدائ پاک او بنی آدم دواړو سره تعلق لري. د عیسی د ژوند قیصه په انجیل شریف کښې بیان شوې ده. دا د هرې زمانې دپاره ترټولو لویه قیصه ده.

## د عیسی زمانه

زمونږ د زمانې تاریخ د عیسی له پیدایښت نه شروع کیږی. په هغه زمانه کښې خلق پایډل یا په خرو، اوښانو یا اسونو باندې سفرونه کول. د یورپ، میډل ایست (منځني ختیځ) او شمالی افریقې لویه برخه د روم امپراتورۍ تر قبضې لاندې وه. ډیر خلق د لیک او لوست توان نه درلود، مګر په اسراییلو کښې یهودان په لوستلو او لیکلو پوهیدل. دوئ ته "اهل کتاب" ویلے کیدو.

خُدائ پاک په کتاب مقدس او صحیفو کښې خبرې کوی. هغه د ټولو څیزونو خالِق دے او د ټولو خلقو سره دوستی غواړی. عیسی دا په واضح توګه وښودله!






## اِسرائيل د عيسی په زمانه کښې

**مرکزی ښار**: يروشلم

**صوبې**: ګليل، سامريه، يهوديه.

**سايز**: خواوشا ۲۸۰۰۰ کيلومېټر مربع (۱۰۸۱۰ مايل مربع).

**آب او هوا**: معتدل.


**سياست**: د ٦٣ ق م (قبل مسيح) راهيسې اسراييل د روميانو تر قبضې لاندې وُو.


**حکومت**: د يهوديه ګورنر پنطوس پيلاطوس په اسراييلو باندې جکومت کولو. هغه د روم قيصر تيبريوس تر حُکم لاندې وو.

دين: يهوديت. يهوديان په يروشلم کښې يوه عبادتخانه لري. دلته اِمامان شته دی چې د مذهب دپاره هر ډول خدمت کوی او استاذان شته دی (لکه فريسيان) چې د صحيفو له مخې خلقو ته لارښودنې کوی.

**ژبې**: عبراني (د يهوديانو ژبه)، يوناني (بين الاقوامی ژبه)، لاتينی (د روميانو ژبه).


ولې دا دومره زيات خلق د سيند پر غاړه راجمع شوی دی؟
ځانونه تيار کړئ! ځکه چې د آسمان بادشاهی نزدې راغلې ده!



یو نوی ژوند شروع کړئ!
د ونو جرړو ته د خُدایٔ د عدالت تبر نیولے شوے دے.
هره هغه ونه چې ښهٔ مېوه نهٔ نیسی هغه به پرې کړے شی او د اور لمبو ته به واچولے شی.
زمونږ هر تن به په دا ډول پرې کړے شی ځکه چې څوک کولے شی ښه ژوندون ولری؟
هیڅوک نشی کولے د خُدایٔ له عدالت نه تېښته وکړی. خو زما نه وروستو، یو څوک راځی چې کولے شی تاسو له دننه نه بدل کړی. هغه به تاسو بچ کړی.
نو بیا د خپلو ګناهونو اِقرار وکړئ. تاسو په رښتیا غواړئ چې ژوند مو بدل شی څه؟ نو بیا راشئ او په دې اوبو کښې بپتسمه واخلئ.
نو په دا ډول، تاسو به دا ثابِته کړئ چې غواړئ یو نوی ژوندون شروع کړئ.


ټول خلق دغه د درياب دغاړې واعظ د بپتسمه ورکوونکی یحییٰ په نامه پېژنی.
زه ډير مهم نه يم. زما کار دا دے چې د مالِک خُدائ د لپاره لاره نېغه کړم. هغه څوک چې مونږ ته د خُدائ لاره ښائي. هغه به تاسو له په روحُ القُدس او په اور بپتسمه درکوی، او پدې توګه به تاسو په پوره توګه بدل کړی.
او وروسته ....
په کار ده چې زهٔ ستا نه بپتسمه واخلم!
په دې وخت هم داسې کول په کار دی ترڅو د خُدائ پاک صداقت پوره شي.
اے زمونږ پلاره، ستا بادشاهی دې راشی. ستا مرضی دې پوره شی
ناڅاپه د آسمان نه يو آواز راغلو او ويل ئې چې، ...
هو! ته زما خوږ زوئ يې چې زهٔ له تا نه راضی يم.


یهودیان مایوسه او غمژن دی او د مسیح د راتلو انتظار کوي چې هغه به راشي. هغه نجات ورکوونکے دے چې د یهودانو په پخوانیو صحیفو کښې د هغه د راتلو پیشګوئي شوې ده او ویل شوی دی چې هغه به د خُدائ فتح او عظمت راولي.
کله چې بپتسمه ورکوونکي یحییٰ د اسراییلو خلق د مسیح د راتلو دپاره تیارول، رومیانو د دنیا په لویې حصې باندې بادشاهی کوله. اسراییل د دغه بادشاهۍ یوازې یوه وړه حصه وه …
کفرنحُوم
ناصرت
قانا
ګلیل
د أُردن سیند
یروشلم
یهوداه
اِسرائیل
خو د أُردن د سیند په غاړه بپتسمه ورکوونکی یحیی د عیسیٰ په طرف اِشاره کوی.
وګورئ! د خُدائ پاک ګډورے څوک چې د دُنیا ګناهونه په ځان وړی.
د بپتسمې نه پس عیسیٰ د مالک د روح له خوا بیابان ته بوتلل کېږی.
هلته هغهٔ ۴۰ ورځې او شپې روژه نیسي او په دې مودې کښې هغه د خپل کار په حقله د خُدائ له منصوبې نه خبرېږی.
هلته عیسیٰ د اِبلیس سره چې د تیارې نهٔ لیدونکی حکمران دے، مخامخ کېږی. د خُدائ او د انسانیت دغه دشمن په دنیا کښې په کرکه، بیمارۍ او مرګ باندې حکومت کوی….
د ابلیس د شکست دپاره، دا ضروری ده چې عیسیٰ د خُدائ پاک منصوبه پوره کړی. د خُدائ منصوبه دا ده چې خلق د مرګ له منګولو نه بچ کړی.
هو پلاره! زه غواړم هغه څه وکړم چې ستا مرضی ده!



خو اِبلیس د عیسیٰ په ذهن کښې داسې سوچونه اچوی ترڅو هغه د مالِک خُدائ د رضا پوره کولو نه واړوی.
کۀ تۀ د خُدائ پاک زوئ يې نو دې کاڼو ته ووايه چې روټۍ شی.
صحيفې وائی چې، بنی آدم تش په روټۍ نۀ پائی خو هغه په هره هغه خبره پائی چې د خُدائ پاک د خولې نه راوځی.
کۀ تۀ د خُدائ زوئ يې نو خپل ځان له دې منارې نه ښکته وغورزوه. ځکه چې صحيفې وائی چې، د خُدائ فرښتې به تا په خپلو لاسونو کښې پورته کړی هسې نه چې په کاڼی تيندک وخورې.
دا وئيلے شوی دی چې، تاسو په خپل مالِک خُدائ پاک آزمېښت مۀ کوئ.
کۀ تۀ ما ته سجده وکړې او زما عبادت وکړې، زۀ تا له د دنيا ټول قدرت درکړم!
ورک شه اِبليسه. صحيفې وائی چې، تۀ تش مالِک خُدائ پاک ته سجده کوه او صرف هم د هغۀ عبادت کوه.
نو اِبليس هغه پرېښودو او فرښتې راغلې او د هغۀ په خِدمت کښې حاضرې شوې.
بيا عيسیٰ د روحُ القُدس د قُدرت نه معمور ګليل ته واپس راغلو چېرې چې هلته هغه لوے شوے وُو. په دې سفر کښې ورسره يو شمېر کسان هم ملګری وُو. دوئ غوښتل پوه شی چې آيا عيسیٰ هماغه وعده شوی مسيح دے چې پېغمبرانو يې په حقله پېشګوئی کړې وه.



د ګليل په قانا نومې ښار کښې يو وادهٔ دے.....
... عيسیٰ هم د خپلې مور او ځينې
دوستانو سره وادهٔ ته رابللے شوی دی.


خو د وادۀ په منځ کښې ....
دا څه مصيبت دے! مے په ختمېدو دے!
هر څۀ چې دے درته فرمائی هغه کوئ!
دا چاټې د اوبو نه ډکې کړئ او څۀ ترې وباسئ او د مېلمستيا مشر له يې يوسئ چې د هغې خوند وڅَکی.
اوبه؟ خو دا غير ممکن دے! دا ډېر مزه داره مے دے!
ـ ؟
ته دا وڅَکه! تا خو تر اوسه ښۀ مے لا ساتلے دے.
هېڅ باور نۀ کوم! دې نه پخوا زه هيڅکله داسې واده ته نه وم تللے. اوبه په ميو باندې بدلې شوی دی!
دا کار عيسیٰ ناصری کړے دے
هغه څوک دے؟


کفرنحُوم د ګليل درياب ته نزدې د کب نيولو يو آرام کلے دے. دلته
عيسیٰ د خُدائ د بادشاهۍ په حقله خپل تعليم  شروع کوی.
او دلته هغه خپل
ورومبنی مريدان ټاکی.
شمعونه، ژورو اوبو ته لاړ
شه او د ښکار دپاره خپل
جالونه هلته واچوه.
اُستاذه! مونږ ټوله شپه
خواری وکړه خو هيڅ
مو ونۀ نيول
خو چې تۀ داسې وائې
نو تابعدار يم ....
وګورئ! باور
مې نه کيږی!


يعقوب! يوحنا! زر شئ مدد وکړئ. دا زمونږ د ټول عمر ښکار دی.
اے مالِکه، زما نه لاړ شه ځکه چې زهٔ يو ګناه ګار يم.
مهٔ يريږه، شمعونه.
د دې نه پس به زهٔ تاسو د ماهيګرانو پرځای آدم ګيران جوړ کړم.
ما پسې راځئ!


عیسیٰ له خپلو مریدانو سره د اسرائیلو شمال ته سفر کوی. هغه هرچا ته دا زېرے ورکوی چې د خُدائ بادشاهت راتلونکے دے. د هغه خبرې د قدرت او فضل نه ډکې دی. هغه بیماران روغوي او خلق د شېطانی طاقتونو نه بچ کوی. زیاتره خلق د هغه پسې روانېږی. دوئ له نورو لېرې پرتو صوبو او حتی د اسرائیلو له مرکزی ښار یروشلم نه راځی ...
بختور دی هغوئ چې د روح غریبان دی ځکه چې د آسمان بادشاهی د هغوئ ده.
بختور دی هغوئ چې د صداقت اوږی تږی دی، دوئ به ماړۀ کړے شی.
بختور دی هغوئ چې غمژن دی، هغوئ به تسلی ومومی.
کله چې خلق تاسو ته سپکې سپورې وائی، زوروی مو، نو دا هر څۀ تاسو په خوشحالئ او روڼ تندی وزغمئ ځکه چې په آسمان کښې ستاسو دپاره لوئ اجر دے،


د نورو سره تل داسې سلوک کوئ لکه څنګه سلوک چې تاسو د ځان دپاره خوښوئ،
د خپلو دشمنانو سره مینه کوئ، او د هغوئ دپاره دُعا کوئ.
خپل نیک عملونه په پړده کښې ترسره کوئ ترڅو د خلقو پام ځان ته وانه اړوئ.
کۀ یو سړے یوې ښځې ته په بد نیت سره وګوری نو هغۀ په خپل زړۀ کښې د هغې سره زنا کړې ده.
سترګې د بدن دپاره ډیوې دی. کۀ ستا سترګې روغې وی نو ستا ټول بدن به رڼا کښې وی. خو کۀ سترګې دې خرابې وی نو ستا ټول بدن به په توره تیارۀ کښې ژوند کوی.
هېڅوک د دوو مالِکانو خِدمت نۀ شی کولے. تاسو د خُدائ پاک او د مال دولت دواړو یو ځائ خِدمت نۀ شئ کولے.
د سبا غم مۀ کوئ، د هر څۀ نه اول د خُدائ پاک د بادشاهۍ او د هغۀ د رښتینوالۍ لټون کوئ، نو بیا به هغه دا ټول څیزونه هم تاسو ته درکړی.
زما خبرې واورئ او عمل پرې کوئ. نو بیا به تاسو د هغه کس په شان وګڼلے شی چا چې خپل کور د یو سخت ګټ دپاسه آباد کړے وی. خو که دا کار ونه کړئ نو خپل کور به په شګو باندې آباد کړئ.




یوه ورځ خلقو په کفرنحُوم کښې د عیسیٰ کور د ننه او بهر لویه ګڼه جوړه کړې وه....
دا څومره رَش دی! مونږ نشو کولے هغه ته نزدې ورشو.
مونږ باید د کوټې چت سورے کړو او بستره د هغهٔ مخې ته ورښکته کړو.
هلته بَره څه شوی دی؟ هغوئ څه کوی؟
هغوئ ته څه مه وایئ. د هغوئ ایمان ډېر مضبوط دے.
ستا ګناهونه معاف شول.
د هغه خبره مو واورېدله؟ دا یې لا څهٔ کُفر ووئیلو!
هغهٔ په خُدائ پاک پورې مسخرې کوی.
د خُدائ پاک نه بغېر هم لا څوک د چا ګناهونه بخنبلے شی څهٔ؟
ستاسو په خیال کومه یوه سخته دہ؟ د ګناهونو بخنبل، یا یو شل ته شفا ورکول؟
اِبن آدم سره د ګناهونو د بخنبلو اختیار هم شته. زه وایم پاڅه، بستره دې واخله او کور ته ځه.


هېڅ منلی نشم!
وګورئ! زه کولے شم وګرځم!
عجیبه خبره ده. شل ګرځېدلے شی!
عیسیٰ ډیر ښه کارونه کوی. هغه په حکمت او طاقت سره خبرې کوی. هغه د رحمت او فضل د خبرو پرته بل څه نه وایی. خو ټول خلق د هغه نه خوشحاله نه دی. مشران امامان د شرعی حکمونو ساتل غواړی. دوی ګوري چې آیا عیسیٰ د شریعت حکمونه منی که نه. لکه د سبت ورځ. د هفتې په دې ورځ د هر ډول کار کولو دپاره سخته پابندی ده.
د دې سړي لاس اوچ شوے دے. آیا دا روا ده چې نن ورته شفا ورکړې څه؟
خپل لاس اوږد کړه.
وګورئ! زما لاس روغ شو!
مونږ باید د عیسی له شره ځانونه خلاص کړو!
په یروشلم کښې مشران باید خبر کړو چې هغه خلق بې‌لارې کوی!


لکه څنګه چې د عیسیٰ او مشرانو ترمینځ لانجې زیاتېږی، نو عیسیٰ شاته تګ کوی. هغه د خپلو مریدانو سره د دریاب په لور ځی. خو...
مالِکه، مونږ بچ کړه. مونږ ډوبیږو.
ولې یرېږئ؟ ستاسو ایمان چېرې دے؟



په آرام شه!
هغوئ خپله کشتۍ د درياب بلې غاړې ته تړی. د غره له لورې نه يوه عجيبه د چيغو آواز راځی ...
غُر غُر غُر غُر غُر غُر!


یو عجیبه شانتې سړے هلته اوسیږی.
ها! هو!
هغه نزدې راځی!
ای عیسیٰ! ما مه عذابوه!
اے عیسیٰ، د خُدائ تعالیٰ زویه، تهٔ زما نه څهٔ غواړې؟
ای پېریه، له دغه سړی نه راووځه!
نوم دې څهٔ دے؟
زما نوم لښکر دے، ځکه چې مونږ ډېر یُو.
مونږ ته په خنزیرانو کښې د ورننوتو اجازت راکړه.
لاړ شئ!


ـ ؟
زهٔ روغ شولم!
له دې ځایه ځئ! لاړ شئ!
ما هم له ځان سره یوسه!
نه! خپل کور ته واپس لاړ شه او هغه هر څهٔ بیان کړه چې خُدائ پاک ستا دپاره وکړل.


تاسو باید پوهه شئ چې زۀ خپله
مرضی نه بلکې د خپل پلار مرضی
پوره کوم چا چې زۀ رالیږلے یم.
عیسیٰ به هرځل یو خوشی بیابان ته لاړو او
هلته یې خُدائ پاک ته دُعا کوله ...
یوه شپه له دُعا نه وروسته، عیسیٰ دولس
کسان رسولان مقرر کړل. هغوی یې دوه دوه
تنه لیږل شروع کړل او ورته یې د پیریانو
شړلو او شفا ورکولو اختیار  هم ورکړو....
هغوی د عیسیٰ مریدان دي. پطروس
او د هغه ورور اندریاس....
یعقوب او د هغه ورور یوحنا ....
.... فیلیپوس او برتلمایۍ ....



توما او متی چې پخوا محصولچی وو او د رومی یرغلګر فوج خدمت ئې کولو ....
تدی او دوهم یعقوب ....
... شمعون (ننګیالے) او یهوداه اِسکریوتی ....
ځئ! څوک چې تاسو قبلوی هغه ما قبلوی او څوک چې ما قبلوی نو هغه هغه څوک قبلوی چې زهٔ یې رالېږلے یم.
رسولان په خوشحالۍ سره بیرته ستنېږي. وروسته، عیسیٰ د دوی سره صحرا ته ځی ترڅو یوازې وی، مګر خلق د هغه له نیت نه خبرېږي او د هغه پسې روانېږی.
فصل ډېر دے خو مزدوران لږ دی. د دې دپاره تاسو د فصل مالِک ته خواست وکړئ چې هغه د فصل رېبلو دپاره نور مزدوران راولېږی.




عیسیٰ په تعلیم ورکولو او د بیمارانو په شفا ورکولو بوخت دے. ماښام رانزدې کېږی ...
فیلیپوسه، مونږ به د دې خلقو دپاره روټۍ د کوم ځائ نه اخلو؟ ولې تاسو ورله څه نه ورکوئ؟
د دوو سوو دینارو روټۍ به هم کافی نهٔ وی چې د دې خلقو لږه لږه ورسی.
دلته یو هلک دے چې ورسره د اوربشو پینځهٔ روټۍ او دوه کبان شته، خو دا د دې دومره ډېرو خلقو دپاره هیڅ هم نهٔ دی.
د دوئ نه د پنځوسو پنځوسو کسانو پېنډې جوړې کړئ.
عیسیٰ د خُدائ شُکر ادا کوی
هغه روټۍ او کبان د خلقو په منځ کښې وېشی!


زرگونه کسان مړېږي.
مونږ هغه په زوره خپل بادشاه جوړوو!
هغه باید هماغه وعده شوے مسیح وی.
وګورئ! پاتې شوو ټوکړو نه ۱۲ ټوکرۍ ډکې شوې.
اوس يې وخت دی چې د خلقو ګڼه خوره کړئ او تاسو کِشتۍ ته وخېژئ او د درياب پورې غاړې ته لاړ شئ. زه دلته ایسارېږم او دعا کوم.


په هماغه شپه ...
مدد! دا خو پیرے دے.
مۀ یرېږئ.
مالِکه، کۀ چرې دا تۀ یې نو ما ته حُکم راکړه چې زۀ هم د اوبو دپاسه درشم.
راځه
مالِکه، ما بچ کړه.
ای پطروسه! شک دې ولې وکړو؟


ځینې غواړي عیسیٰ په زوره پاچا جوړ
کړی. دوئ هیله لری چې هغه به د روم
یرغلګر نیست و نابود کړی. د عیسیٰ
مخالفین مخ په ډیریدو دی. که څهٔ هم
هغه د خلقو سره مدد کوی، خو مشران
اِمامان فکر کوی چې هغه د قانون خلاف
عمل کوی. دوئ غواړی چې خلق د هغهٔ
پرضد راوپاروی ترڅو د هغه له شره ځانونه
خلاص کړی.
اُستاذه، تهٔ کله دلته راغلې؟
آیا د هغه روټۍ په خاطر مالتړوئ چې ومو وخوړله؟
د داسې خوراک دپاره خواری مهٔ کوئ چې ختمیږی بلکې د هغې روټۍ دپاره خواری کوئ چې تر ابده پاتې کیږی.
زهٔ د ژوندون روټۍ یم. څوک چې دا روټۍ وخوری هغه به تل ژوندے وی. او کومه روټۍ چې زهٔ د دُنیا د ژوندون دپاره ورکوم هغه زما بدن دے.
دا سړے خپل بدن مونږ ته خوړلو له څنګه راکولے شی؟
هغه له مونږ نه بېوقوفان جوړوی!
راځئ چې ځو!
هغه مونږ دوکه کوی!
ولې تاسو هم ما نه تلل غواړئ؟
مالِکه، چا له به مونږ لاړ شُو؟ تا سره خو د تل ژوندون خبرې دی.


عیسیٰ ته دهمکي ورکول کېږی.
ځینې غواړي هغه سنګسار
کړی. هغه د خپلو مریدانو له
یوې ډلې سره ګلیل پرېږدی چې
په هغو کښې نارینه او ښځینه
دواړه شامل دی. هغه د
اسراییلو په نورو سیمو کښې
خپل کار ته دوام ورکوی ...
ګلیل
یروشلم
اسراییل
وروسته بیا یروشلم ته
راځي ....
په لاره کښې ...
خلق څۀ وائی چې
زۀ څوک یم؟
هغوئ تا یو
نبی ګڼي.
او تاسو؟
تاسو څۀ وایئ چې
زۀ څوک یم؟
تۀ مسیح د ژوندی
خُدائ پاک زوئ یې.
هیچا ته مۀ وایئ چې زه مسیح یم. مسیح به ضرور یروشلم ته لاړ
شی. هلته به د یهودي مشرانو د لاسه ډیرې سختۍ وزغمی او هغه
به ووژلے شی. خو په دریمه ورځ به بیا راژوندے شی.



د یروشلم نه بهر، هغه کسان چې په مرګ محکوم شوی، په وحشیانه توګه په سولۍ باندې ځېږولے کیږی او د روم د ظالمانه قانون مطابق پانسی کیږی....
کۀ څوک زما مرید جوړېدل غواړی، هغه دې د خپل ځان نه منکر شی، خپله سولۍ دې راواخلی او ما پسې دې راځی.
څوک چې خپل ځان ساتل غواړی هغه به یې بائیلی، خو څوک چې زما د خاطره خپل ژوند بائیلی، هغه به رښتینے ژوندون حاصل کړی.
په دې باید پوهه شئ چې مالِک زمونږ مالِک خُدائ پاک واحد ذات دے.
اول حکم دا دے خپل خُدائ پاک سره په پوره زړۀ، ځان او عقل او ټول طاقت سره مینه ساته. دوېم دا چې، د خپل ګاونډی سره د خپل ځان په شان مینه ساته.


په دې وخت کښې، په اسرائيلو کښې داسې کلی شته دی چې خاص د جذاميانو د استوګنې دپاره دی. په دې بېمارۍ باندې اخته کسانو ته اجازت نه ورکول کيږی چې د روغو خلکو سره ناسته پاسته ولری.
هغه جذاميان چې په لاره روان دی بايد په لوړ آواز نور خلق خبر کړی.
جذامی! جذامی!
ای عيسیٰ! ای استاذه! پر مونږ ورحمېږه!


لاړ شئ او خپل ځانونه اِمامانو ته وښايئ.
ستا مطلب دا دی چې موږ باید د روغېدلو نه پس امام ته ځانونه وښايو؟
اِمام ته لاړ شو؟ دا څه معنی؟
؟؟
!!
وګورئ زه جوړ شولم!
مونږ جوړ شولو! جوړ! جوړ!
هو!
د خُدائ شُکر دے! مالِک ښه دے!
ولې لس واړه پاک نۀ کړے شوئ؟ نو هغه نور نهۀ څۀ شول چې د خُدائ شُکر ادا کړی؟
پاڅه او لاړ شه، خپل ایمان تۀ جوړ کړي.


په یروشلم کښې مشران اِمامان او د
شرعي عالمان د عیسیٰ د مُخبرۍ
دپاره سړیان استوی ترڅو د هغه
خبرې واورې. دوئ غواړی د هغه
په خبرو کښې داسې څه پیدا کړی
چې وروسته هغه پرې ملزم کړی
...
عیسیٰ د هغو خلقو سره ناسته پاسته کوی چې په بدو عملونو مشهور دی.
لکه کنجرې او هغه محصولچیان چې د رومیانو دپاره کار کوی ....
مسیح راغلے دے چې ورک
شوی ولټوی او بچ یې کړی.
مسیح د سبت پر ورځ
بیمارانو ته شفا ورکوی.
روغ شه!
او په خاص طور مسیح ماشومان
په مینې سره قبلوی.
ماشومان ما ته راپرېږدئ، ځکه
چې د خُدائ پاک بادشاهی هم
د داسې خلقو ده.


عیسیٰ یو پیغام ترلاسه کوی او هغه ته بیتِ‌عنیاه ته د راتګ بلنه ورکول کېږی. دا کلے یروشلم ته نزدې پروت دے او د لعزر په نوم یو سړے هلته اوسیږي. هغه ناروغه دے او د هغه دوه خویندې چې مرتا او مریم نومیږی د عیسیٰ دوستانې دی. کله چې عیسیٰ د بیتِ‌عنیاه کلی ته رسېږی، نو هغه ته خبر ورکول کېږی چې لعزر څلور ورځې وړاندې مړ شوے دے.
مالِکه!
کهٔ تهٔ دلته وې نو زما ورور به مړ شوے نهٔ وو.
مرتا! ستا ورور به بیا راژوندے شی.
خو ما ته پته ده چې د قیامت په ورځ به هغه بیا راژوندے شی.
زهٔ قیامت او ژوندون یم. څوک چې په ما ایمان ساتی کهٔ هغه مړ هم شی نو هغه به ژوندے وی، آیا ستا په دې یقین دے، مرتا؟
آو، مالِکه، زما په دې ایمان دے چې تهٔ مسیح یې، د خُدائ زوئ، څوک چې دُنیا ته راتلونکے دے.
هغه تاسو کوم ځائ دفن کړے دے؟
مالِکه، راشه او وې گوره.


وګورئ د دهٔ هغهٔ سره څومره مینه وه.
آیا هغه دا نهٔ شو کولے چې لعزر یې د مرګ نه بچ کړے وے؟
دلته دا رِواج دے چې مړے په کفن کښې نغښتل کیږی او د ګټ نه په کنستے شویو قبرونو کښې ایښودل کیږي.
دا ګټه لرې کړئ.
اوس خو به یې بوئ کړے وی ځکه چې د دهٔ د مرګ خو څلور ورځې شوې دی.
ته به د خُدائ پاک لوئی ووینی.
مالکه! ما د دې حاضرو خلقو دپاره سوال وکړو ترڅو د دوئ دا باور وشی چې زهٔ تا رالیږلے یم.
لعزره، بهر راوځه.
د دهٔ نه کفن لرې کړئ او پرې یې ږدئ چې ځی.



هغه کسان چې په یروشلم کښې واکمنان دی، هغوئ تر ټولو زیات د عیسیٰ او د هغهٔ د مریدانو نه یره لری ...
دا سړے خو ډیرې معجزې ښکاره کوی.
کهٔ مونږ دے دغه شان آزاد پرېږدو، نو رومیان به دلته خپل فوجیان ولېږی.
هغوئ به د خُدائ کور تباه کړی او مونږ ټول به قتلِ عام کړی.
نو سوچ وکړئ. دا غوره ده چې د قوم دپاره دې یو سړے مړ کړے شی، نه دا چې ټول قوم تباه شی.
نو په همدې وجه عیسیٰ باید مړ شی!
یو سړے باید د ټول اولس دپاره مړ کړے شی! له همدې امله مشران اِمامان د عیسیٰ د سولیٔ کولو دپاره د موقع په لټه کښې دی. هغه یروشلم ته روان دے. دا ډېره اسانه ده. دوئ غواړی چې رومیان هغه ته د مرګ سزا ورکړی ...


په همدې شپه په بيتِ‌عنياه
کښې يوه مېلمستياروانه ده.
مريمې!
دا عطر دې ولې
ضائع کړل؟
دا عطر بايد خرڅ
شوے وے او پيسې
يې خوار غريب له
ورکړے شوے وے!
يهودا! هغه خپلې
خوښې ته پرېږدئ.
هغې زۀ د ښخولو د
ورځې دپاره تيار کړم.


د فسحې اختر کرار کرار رانزدې کېږي، د ټول
مُلک نه خلق په یروشلم کښې راټولیږي.


یهودي مشران د عیسیٰ د ګرفتارۍ
کوشش کوی. خو سره له دې هم، عیسیٰ
یروشلم ته خپله لاره نه بدلوي.



خلق په خوشحالیو او چیغو
سره د هغه هرکلے کوی.
زنده باد!
مبارک دے!
مبارک دے هغه څوک چې د
مالِک خُدائ په نامه راځی.
د بنی اِسرائیلو بادشاه
اے یروشلمه! کهٔ چرې نن
ورځ تا ته دا معلومه وے چې
کومه د خیر لاره ده، خو نه،
دا ستا د نظر نه پټه ده.
ټوله دُنیا په هغهٔ
پسې روانه ده.
مونږ هیڅ هم
نهٔ شُو کولے.


د یروشلم عبادتخانه د
یهودو د دین مرکز دے.
د فسحې په اخترونو کښې
هلته ګډورى قربانى کېږى.
د دې ګډورو یوه برخه د خُدای
سره د خلقو د بخلاکېدلو په
مقصد سوځول کېږى؟
خو کوم قربانى ګډورے کولے
شى خلق د ګناه، شرم او د
عدالت له یرې نه بچ کړى؟
د عبادتخانې په صحن کښې سوداګر او
صرافان په خپل کار کسب اخته دى.
ناڅاپه عیسیٰ د خُدائ
کور ته راننوځى.



د خُدائ کور به د دُعا کور بللے شی، خو تاسو ترینه د ډاکوانو اډه جوړه کړې ده.
مونږ باید د هغۀ نه د خلاصون لاره ولټوو.
هغه خطرناکه دی! خلق ئې په خبرو یقین لری.


مونږ باید هغه په یو چل سره ګرفتاره کړو او بیا ئې ووژنو.
خو دا کار د اختر پر مهال نه شي کېدای. مونږ نه غواړو چې اله ګوله جوړه شی.
ماته څومره راکوئ چئ عیسیٰ تاسو ته حواله کړم؟
دا یهوداه اِسکریوتی دی چې د هغهٔ د مریدانو نه یو دے!
زه به عیسیٰ تاسو له حواله کړم!
مونږ به د سپینو زرو دېرش سکې درکړو چې دا د یو غلام قیمت دے.


د فسحې د اختر نه مخکې ورځو کښې، عیسیٰ هره ورځ عبادتخانې ته ځی ترڅو خلقو ته تعلیم ورکړی. مذهبی مشران اِمامان غواړی پر هغه باندې پابندی ولګوی. هغه له پطروس او یوحنا نه خواست کوی چې د فسحې روټۍ تیاره کړی ...
همدا نن شپه به ئې کار ختم کړم!
په دې شپه، عیسیٰ د خپلو دولسو مریدانو سره ښار ته ځی ترڅو یوځای سره د فسحې روټۍ وخوری.


زما دا ډېر ارمان وو چې د مصیبت زغملو نه وړاندې زهٔ تاسو سره د فسح خوراک وکړم.
بادشاهان په خپلو خلقو حکومت کوی. خو په تاسو کښې دې داسې نهٔ وی.
ستاسو مشر دې لکه د خادِم په شان وی.
زه ستاسو خادم یم.


مالِکه، تهٔ به زما پښې وينځې؟ زهٔ
به تاسو هيڅکله پرې نهٔ ږدم.
ترڅو چې زهٔ تا ونهٔ وينځم نو
تهٔ به زما مريد نهٔ يې.
بيا نو مالِکه، نهٔ يواځې زما پښې بلکې
لاسونه او سر مې هم ووينځه.
چا چې لامبلى وى
هغهٔ ته د پښو د
وينځلو نه علاوه
نور حاجت نشته.
نو کهٔ ما ستاسو مالِک او اُستاذ ستاسو
پښې ووينځلې نو په تاسو هم لازم دى
چې د يو بل پښې ووينځئ.
په تاسو کښې به يو
زما مُخبرى کوى.
دا نشي
کېدے!
آيا زهٔ خو به نهٔ يم؟
يهودا! څهٔ چې
کوې، زر يې وکړه.


زما په یاد کښې
دغه شان کوئ.
دا روټۍ زما بدن دے چې
ستاسو دپاره ورکړے کیږی.
دا پیاله واخلئ. ځکه دا زما په هغه
وینه کښې کومه چې ستاسو دپاره
توئیږی، د خُدائ پاک او انسانانو تر
مینځه نوے لوظ دے.
زۀ تاسو له یو نوے حُکم درکوم چې د
یو بل سره مینه کوئ. لکه چې ما تاسو
سره مینه کړې ده نو دغه شان تاسو
هم د یو بل سره مینه کوئ.
کۀ د یو بل سره مینه کوئ نو بیا به ټول
خلق پوهه شی چې تاسو زما مریدان یئ.
مالِکه، زۀ تیار یم چې هر چیرته ځې، له تا سره
لاړ شم او ستا په خاطر ځان قربان کړم.
پطروسه! نن به تۀ د چرګ د بانګ نه
وړاندې درې ځله زما نه اِنکاری شې.


شپه راځی او عیسیٰ د خپلو مریدانو سره ښار
پرېږدی او ځی. یهودا د هغوئ سره نشته.
زه به تاسو پرېږدم، مګر پلار به تاسو ته روح القدس واستوی. هغه ستاسو سره مدد کوی او ستاسو ملاتړے به وی.
تاسو ته پته لږي چې زه جېرته ځم.
زهٔ لار، حق او ژوندون یم. هیڅوک هم زما د وسیلې نه بغېر پلار له نهٔ شی راتلے.
ترځو چې زهٔ هلته ځم او دُعا کوم، تاسو دلته کښېنئ.
اے زما پلاره، کهٔ کېدے شی نو دا د تکلیف پیاله زما نه اخوا کړه.
خو زما مرضی نه بلکې ستا مرضی دې پوره شی.



ولې تاسو لا هغه شان اوده یئ؟ زما مُخبر نزدې راغلے دے.
ځوک چې زهٔ ښکل کړم هم هغه دے، وې نیسئ.
اُستاذه سلام.
یهوداه، ته د مسیح مُخبری په ښُکلولو کوې څهٔ؟
مالِکه، د خپلو تُورو نه کار واخلو څهٔ؟
بس دے.
سپاهیان عیسیٰ نیسی او لاس تړلی یې وړي. د هغه مریدان ټول تښتي


هغوئ عیسیٰ د مشر اِمام کور بوتلو چې د یهودی مشرانو سردار وو.
پطروس او یوحنا ورپسې په څهٔ فاصله کښې وروستو روان وو.
پطروس صحن ته د ننه کېږي.
آیا ته هم د عیسیٰ سره نه وې څهٔ؟
اے ښځې، زهٔ یې څهٔ پېژنم؟
تهٔ خو هم په هغوئ کښې یو یې.
نهٔ، زهٔ هغه نهٔ یم.
البته، دا سړے هم ورسره وو ځکه چې دے هم ګلیلی دے.
سړیه، زهٔ خبر نهٔ یم چې دا تهٔ لا څهٔ وائې.


قو قو قو
قووو
عیسیٰ غواړي له پطروس سره سترګه په سترګه شي ...
اوس له غیبه ووایه چې تهٔ چا ووهلې.
سهار چرګبانګ ئې عیسیٰ د یهودیانو جرګې وړاندې پېش کړو.
آیا تهٔ د خُدایٔ زویٔ یې څهٔ؟
دا تاسو وایئ چې زهٔ یم.
دے خو کُفر وائی. دے د قتلولو جوګه دے. هغه د رومیانو عدالت ته بوځئ.



عیسیٰ د پیلاطوس په نوم د رومي ګورنر مخې ته راوړل کېږي. یهودي مشران خلک د عیسیٰ پر ضد تحریکوی او پر هغه باندې د دروغو الزامونه لګوي او بې عزتی او سپکاوی یې کوی.
تهٔ ګورې! دوئ په تا څومره اِلزامونه لګوی.
ستا ګناه څه ده؟
زهٔ دې دپاره راغلے یم چې د حقیقت ګواهي ورکړم.
نو بیا حقیقت څه دے؟
ما د دهٔ خلاف هیڅ جرم پیدا نهٔ کړو. خو له دې کبله چې د فسح اختر دے نو زه یو قیدی آزادوم. ستاسو څه خوښه ده چې عیسیٰ آزاد کړم که باراباّ؟


نو بيا د عيسیٰ
سره څۀ وکړم؟
دے په سولۍ
راځوړند کړه!
هغۀ ځان
بادشاه ګڼی!
کۀ دا سړے آزاد
کړې نو تۀ د
رومی قيصر خير
خواه نۀ يې.
بارابا!
بارابا!
۳۷، ۳۸، ۳۹ ...
ته د هغه پرځای آزاد يې.
بارابا د عيسیٰ په ځائ آزاد کېږي. هغه د
قتل په اِلزام کښې قېد کړے شوے وو.
اے د يهوديانو
بادشاه سلامت.
زه د دې سړی
د خُون ذمه
وار نه يم.


وګورئ، دا هغه سړے دے.
دے په سولۍ راځوړند کړئ.
دے په سولۍ راځوړند کړئ.
دے په سولۍ راځوړند کړئ.
نو پیلاطوس د دوئ د غوښتنې سره سم د پانسۍ فیصله دستخط کړه. په سولۍ مرګ یو سخت عذاب دے. عیسیٰ مجبور شو چې خپله سولۍ په خپلو اوږو پورته کړي او د یروشلم د خلقو په مینځ کښې د پانسۍ ځای ته لاړ شي.
د پانسۍ ځای د ښار نه بهر پروت دے چې ورته د کوپړو ځائ یا ګولګتا وائی.....
سپاهیانو عیسیٰ په سولۍ باندې وخېژولو!


په دې موقع یهودا د خپل
کار نه پښېمانه کېږی.
ما ګناه
کړې ده!
د یو بې‌ګناه سړی سره
مې غداری وکړه!
زمونږ پرې
څهٔ؟
عیسیٰ ئې د دوو مجرمانو ترمنځ په
سولۍ باندې راځوړند کړو.
پلاره، دوئ معاف کړه.
ځکه چې هغوئ نهٔ
پوهیږی چې څهٔ کوی.




د هغهٔ د سر دپاسه ئې یوه تخته ټک وهلې
وه چې پرې په دریوو ژبو باندې لیکلے شوی
وو: "دا د یهودیانو بادشاه دے."
عیسیٰ د درد ضد
شرابو څښل رد کړلو.
سپاهیانو د عیسیٰ په جامو
باندې پچه واچوله.
ښه نو بیا کهٔ تهٔ په رښتیا د خُدائ
زوئ یې خپل ځان بچ کړه، او د
دې سولۍ نه راکوز شه.
هغهٔ خو نور خلق بچ
کول خو اوس خپل ځان
نهٔ شی بچ کولے.
خپل ځان
او مونږ هم
بچ کړه!
تهٔ د خُدائ پاک نه نهٔ یرېږې څهٔ؟ تا ته هم د دهٔ په
شان سزا درکولے کیږی. مونږ سره خو اِنصاف شوے
دے. ولې دهٔ خو هیڅ بد کار نهٔ دے کړے.
اے عیسیٰ، کله چې تهٔ خپلې
بادشاهۍ ته ورسیږې نو ما
هم یاد ساته.
زهٔ تا ته دا وایم چې تهٔ به
نن ما سره په جنت فردوس
کښې یو ځائ یې.


سولۍ ته نږدې عیسیٰ خپله مور ولیده
چې یوحنا سره په خوا کښې ولاړه وه.
له دې وروسته تاسو
مور او زوئ یئ.
د غرمې وخت وو چې نمر پټ شو او
په ټوله زمکه تیارهٔ راخوره شوه.
زهٔ تږے یم.
اے زما خُدایه، اے
زما خُدایه، زهٔ دې
ولې پرېښودلم؟
اے پلاره، زهٔ خپل روح
ستا لاسونو ته سپارم.
پوره ... شو!


عیسیٰ د ماسپښین په دریو بجو ساه ورکړه. یو سپاهی د هغهٔ پوښتۍ په نېزه ووهله او سمدستي ترې د وینو او اوبو دارې روانې شوې.
په صحیفو کې راغلي دي چې، هغهٔ لکه د یو ګډوری په شان وو چې د حلالولو دپاره بوتلے شی.
هغه زمونږ ګناهونه پر اوږو واخیستل او سولۍ ته ئې یووړل. هغه اوس مړ شو.
ایا هغه هماغه مسیح و چې مونږ د هغهٔ په طمع وو، که نه؟
راځئ چې لاړ شو او خواست وکړو چې د هغه د ښخولو اجازت راکړی.
د ارمتیه یوسف او نیکودیموس، د عیسیٰ لاش د سولۍ نه راښکته کړو. هغوئ هغه په صفا کتان کښې ونغښتو، او په یو نوې غار کښې ئې کېښودلو کوم چې په ګټ کښې کنستلے شوے وو.


د فسحې لپاره د آرام کولو د ورځې وروسته، ځینې ښځې د قبر لیدلو دپاره ځی ...
د غار د خولې نه کاڼے رغړېدلے دے!
تاسو ژوندی په مړو کښې ولې لټوئ؟ هغه بیا ژوندے شوے دے. نو بیا زر لاړې شئ او د هغهٔ مریدان خبر کړئ.
کله چې پطروس او یوحنا له دې ښځو نه خبرېږی نو په منډه د قبر خوا ته روانېږی.
څه شوی دی؟
قبر تش دے!



په باغ کښې ...
اے خورې، ته‌ ولې ژاړې؟ ته‌ څوک لټوې؟
صاحبه! تا د هغه لاش وړے دے؟
مريمې!
استاذه!
ما ته لاس رانهٔ وړې. خو زما ورونړو له لاړه شه او هغوئ ته ووايه چې زهٔ خپل پلار له او ستاسو پلار له، خپل خُدائ پاک له او ستاسو خُدائ پاک له پاس ځم.


هم په هغه ورځ د عیسیٰ دوه تنه غمجن مریدان، له یو
لاروی سره د عیسیٰ د پانسیې په هکله ګپ شپ کوی.
آیاد نبیانو په کلام مو باور نهٔ دے
څۀ؟ د مسیح دپاره دا مقرر وُو چې
هغه به دا زحمتونه وزغمی او په خپل
جلال کښې به داخل شی.
هغوئ خوراک ته کښېناستل. خو ناڅاپه د
هغوئ مېلمه د نظر نه غېب شو.
دا خو په خپله
عیسیٰ وو.
بیا هغوئ سمدستي یروشلم ته روان شول او
د نورو یوولسو مریدانو سره ملاو شول.
مونږ مالک خُدائ ولید!
همدا شان مریم
او پطروس هم!
ناڅاپه ...
په تاسو دې
سلامتي وي.
تاسو داسې ځان سره ولې وایئ
چې دا ښوک دے؟ زما لاسونو
او پښو ته خیال وکړئ چې دا
زۀ په خپله یم.
زما مالِکه او زما
خُدایه پاکه.


عیسیٰ تر څلوېښتو ورځو پورې خپلو مریدانو ته څو څو واري ښکاره شو. بیا هغهٔ یو ځل د پینځو سوو نه زیات ورونړو او خوېندو ته ښکاره شو. د هغه مریدان واپس ګلیل ته راستنېږي. یوه ورځ چې هغوی کبان نیسي ...
اے دوستانو، تاسو څهٔ کبان ونیول کهٔ نه؟
نه! ومو نشو کړے.
د کِشتۍ ښى طرف ته جال وولئ!
څومره دروند دے!
دا خو مالِک دے.
مالکه!
راشئ او ناشته وکړئ.


پطروسه! ته د نورو ټولو نه ما
سره زیاته مینه کوې څهٔ؟
عیسیٰ درې ځله له پطروس
نه دا تپوس کوی.
مالِکه، تهٔ پوهېږې چې
زهٔ تا سره مینه کوم.
زما ګډې
وځروه.
د آسمان او د زمکې ټول اختیار ما ته راکړے
شوے دے. ځکه تاسو په زمکه خوارهٔ شئ او ټول
قومونه زما مریدان کړئ او د پلار، د زوئ او د
روحُ القُدس په نامه ورته بپتسمه ورکړئ. او دا
تعلیم ورکوئ چې په هغه ټولو خبرو عمل کوئ
چې ما تاسو ته حکم کړے دے.
ما پسې
راځه.
او دا یقین ساتئ چې زهٔ به تل او تر
قیامته پورې تاسو سره یم.
وروسته، عیسیٰ خپل مریدان
پرېږدی او آسمان ته ځی. مګر
هغه دا هم ویلی دی چې هغه به
یوه ورځ له آسمان نه بېرته راستون
شی ترڅو د نړۍ عدالت وکړی.

د عیسیٰ مریدان په یروشلم کې انتظار کوی او دعا کوی چې د روح القدس نه معمور شی. د پنځوسو ورځو وروسته، د پنځوسمې اختر په ورځ، روح القدس په دوئ باندې نازلیږي. هماغه روح چې په عیسیٰ کښې وۀ اوس په دوئ او په هغو کسانو کښې ژوند کوی چې په هغۀ ایمان لری. د هغه مریدان د هغه مضبوط ګواهان دی. ګڼ شمیر خلک د عیسیٰ په حلقه اوری …











اوس په ټوله دنیا کښې ګڼ شمیر خلق راټولیږي ترڅو دعا وکړي او کتاب مقدس په شریکه ولولي. دوئ د مالِک خُدائ په رحمت کښې ژوند کوی. دوئ د هغۀ فضل تجربه کوی. دوئ یو له بل سره مینه لری او د محتاجانو سره مدد کوی. دوئ حتی د خپلو دشمنانو سره مینه کوی. دوئ په با قاعده طور د مالِک خُدائ د عشاء ربانی په پروګرامونو کښې ګډون کوی او په دې توګه د عیسیٰ یاد تازه کوی. دوئ د مالِک خُدائ مینه چې د دوئ زړونه ئې مالامال کړی دی، خپلو خواوشا خلقو ته ښکاره کوی.


عیسیٰ د انسان دپاره د خُدائ پاک منصوبه پوره کړه.
عیسیٰ تاسو سره مینه لري. نو د هغه شکر ادا کړی او عبادت ئې وکړئ!
خُدائ پاک د دې دُنیا سره داسې مینه وکړله چې خپل اېک يو زوئ يې هم ورکړو، نو څوک هم چې په هغهٔ ایمان راوړی هلاک به نهٔ شی خو د تل ژوندون به بیا مومی.

## کتاب مقدس

د عیسی قیصه په کتاب مقدس کښې راغلې ده. کتاب مقدس په دنیا کښې واحد کتاب دی چې ډېر لوستل شوے دے او لاهم لوستل کیږی. کتاب مقدس د کتابونو ټولګه ده. د دې ټولو کتابونو لیکل ۱۵۰۰ کاله وخت نیولے دے. کتاب مقدس خواوشا ۱۹۰۰ کاله دمخه مکمل شوے دے. دا کتاب مختلفې قیصې لري چې څرنګه خُدائ پاک د خلقو په ژوندون کښې شریک دے. د عیسی قیصه په ښکاره توګه ښایی چې مالِک خُدائ څوک دے.

## د عیسی مسیح تاریخ



کتاب مقدس ټوټل ۴ کتابونه لری چې په هغو کښې د عیسی مسیح ژوندون بیان شوے دے. دا کتابونه د څلو لیکوالانو په نوم نومول شوی دی. دا لیکوالان ټول د عیسی په زمانه کښې ژوند کولو.

۱. **متی** - هغه د عیسی یو مرید وو. هغه یو محصولچی وو. هغه په خاص طور تشریح کوی چې عیسی څنګه د اسراییلو خلقو (یهودانو) سره چال چلن کاوه.

۲. **مرقوس** - کله چې عیسی خپل خدمت شروع کړلو، هغه لا یو کوچنے هلک وو. هغه یو څه د عیسی د معجزو په حقله لیکلی دی، کوم چې عیسی ترسره کړل.

۳. **لوقا** - یو طبیب وو. هغه د عیسی سره ذاتی پیژندګلو نه درلود. لوقا بیانوی چې عیسی د خلقو سره څنګه سلوک کولو.

۴. **یوحنا** - هغه هم د عیسی د مریدانو نه وو. هغه خاص کر دا ښایې چې عیسی څوک دے. عیسی مالِک خُدائ دے چې انسان شولو، ترڅو خلق د خپلو ګناهونو نه بچ کړی.

## د عیسی پیدایښت

د عیسی مور، مریمه، لا وادۀ شوې نه وه چې عیسی د هغې په خېټه کښې پیدا شو. هغه تر هغې پورې چې عیسی پیدا شولو، پېغله نجلۍ وه. خو بیا هم، خدای داسې یو بندوبست وکړو ترڅو عیسی پیدا شي. دا معجزه په هغو کتابونو کښې چې د عیسی نه پخوا لیکل شوی وو، اعلان شوې وه. عیسی د کوم بهادر انسان یا په کوم خاص طور سره نه وو پیدا شوے. هغه په یو شپول کښې پیدا شو ځکه چې بل کوم ځای نه وو پاتې شوے.

## د عیسی معجزې

عیسی ډېری معجزې ترسره کړې. کتاب مقدس د ۴۰ نه زیاتو د شفا ورکونې معجزو ته اِشاره کوی. په دې معجزو سره، عیسی د خُدائ پاک قدرت او مینه وښودله او دا چې هغه غوښتل د خلقو سره مدد وکړی او هغوئ خوشحاله کړی.







# د عیسی مرګ
# او قیامت

***عیسی ولې مړ شو؟ په کتاب مقدس کښې وضاحت ورکړل شوے دے.***

ټول خلق کله کله خطا کارونه کوی. یعنی هغه کارونه کوی چې خُدائ پاک ئې نه خوښوی او هغه پرې په غُصه او ناراضه کیږی. دغه کارونو ته ګناه ویلے کیږی. ګناه کولے شي خلق د خُدائ پاک سره د ملګرتیا نه لرې وساتی.
همدا وجه وه چې عیسی راغلو. عیسی د خپلې آزادې ارادې له مخې زمونږ د ګناهونو سزا په خپله غاړه واخیسته. دا سزا مرګ وه. له دې امله چې عیسی زمونږ په خاطر مړ کړے شو، نو بیا مونږ کولے شو د خُدائ پاک سره بېرته خپل تعلق ښه کړو. خو مونږ باید د هغه غلطیو له امله معافی وغواړو چې کړې مو دي.
عیسی له مړو نه راپورته شو. خُدائ پاک هغه بیا راژوندے کړو. په دې کار سره خُدائ پاک وښودله چې هغه د مرګ نه ډیر طاقتور دے. عیسی اوس د خُدائ پاک سره ژوند کوی. له دې کبله چې هغه لا ژوندے دے، نو کولے شی همېشه زمونږ دوست وی هغه غواړی له مونږ سره مدد وکړی چې داسې ژوند وکړو چې خُدائ پاک خوشحاله کوی.

## دُعا

*که چېرې تاسو د خپلو غلطو کارونو دپاره معافی غواړئ او غواړئ چې د مالِک خُدائ پاک سره دوستان شئ، نو تاسو کولے شئ دا دُعا وکړئ:*

*ګرانه خُدائ پاکه، ته ما سره مینه لرې.*
*تا خپل یکې یو زوے، عیسی راکړو.*
*هغه د ټولو هغو ګناهونو په بدله کښې چې ما ترسره کړي دي په سولۍ باندې مړ شولو.*
*مهربانی وکړه ما د هغو ګناهونو په خاطر معاف کړه چې ما ترسره کړی دی. زه د هغو نه پښېمانه یم.*
*شکر، چې عیسی زما په څنګ کښې دے.*
*زه همیشه غواړم چې له تا سره تعلق ولرم.*
*آیا ته به زما سره مدد وکړې چې هغه ډول ژوند وکرم چې ته ئې له مانه غواړې؟*
*آیا ته به همېشه له ما سره نزدې پاتې شې څه؟*
*شکریه چې ته زما دُعاګانې قبلوې.*
*ته همیشه هغه څه کوې چې تا یې وعده کړې ده!*

# عیسی او تاسو

د عیسی قیصه کولاو پای لری. عیسی د ډیرو خلقو ملګرے شو، هم پخوانۍ زمانه کښې او هم اوسنۍ زمانه کښې. دنیا بدله شوې ده. اوس اکثر خلق په خرو یا اسونو باندې سفرونه نکوی بلکې په ګاډو او جهازونو کښې سفرونه کوی. خو دا د عیسی لپاره هیڅ شانتې فرق نلري. هغه کولے شی مونږ ته هغومره نزدې وي لکه څنګه چې هغه د اسراییلو خلقو ته نږدې و.
هغه ممکن په سترګو ونه لیدلے شی، خو هغه یو حقیقت دے. هغه غواړی نن ورځ ستاسو ملګرے واوسی. تاسو کولے شئ هغه ته غوږ ونیسئ او تاسو ممکن د هغه سره مینه وکړئ.

آیا تاسو غواړئ د عیسی په حقله نور معلومات ترلاسه کړئ او د هغه سره ژوندون وکړئ؟ نو تاسو کولے شئ لاندې عملونه ترسره کړئ:

**۱. د ځان دپاره د کتاب مقدس لوستل پیل کړئ**
(د مثال په طور د هغې برخې نه لوستل شروع کړئ چې د لوقا له خوا لیکل شوې ده).

**۲. په دُعا کولو شروع وکړئ**
(د خُدائ پاک سره خبرې کول او هغه ته غوږ نیول - تاسو ضرورت نلرئ خاص الفاظ استعمال کړئ).

**۳. د نورو خلقو سره د عیسی او کتاب مقدس په حقله خبرې** وکړئ. عیسی غواړي د هغه منونکي له یوبل سره لیده کاته وکړی او د یو بل حوصله افزائی وکړی ترڅو دوئ د هغه په حقله ډیر څه زده کړی.



*«متن او تصویرونه: ویلم دی وینک.»*
*د چاپ حق © Stichting Wereldtaal 1993، روتردام، هالند. په هالندي ژبه د Jezus Messias تر عنوان لاندې خپور شوے دے.*
*د یوسفزي پښتو نسخه ©YousafZai Pashto (Pakistan) 2025*
*د دیجیتل چاپ د خپرولو حق د Creative Commons BY-SA لایسنس تر شرایطو لاندې*
*د ژباړې، خپرولو او تطبیقولو ټول حقونه د ټولو ملکونو دپاره خوندي دي.*
*برښنالیک: jmpbk.app@gmail.com*
*https://jesusmessiahcomicmedia.com/en/afghanistan*

*د پامیر د منیسټرۍ له خوا خپور شوے - www.Hope4Afghans.com/fa*
*د کتاب مقدس پوره متن او نور دپاره دا لاندې سایت وګورئ:*
*www.AfghanBibles.org/pus*
*(QR code)*

عیسی مسیح: دا د عیسی مسیح حقیقي قیصه ده. هغهٔ خواوشا ۲۰۰۰ کاله وړاندې په اسراییلو کښې ژوند کولو. هرچا به چې ورسره لیدلو، نو ورته حیران به شو. هیچا هیڅکله هم هغه څه نه دی کړی چې هغهٔ کړی دی. هیچا هیڅکله هغه څه ندی ویلی چې هغهٔ ویلی دی. چیرې چې عیسی وو، نو هلته به معجزې پېښېدلې. هغه ټولو هغو خلقو ته چې د هغهٔ خبرې اورې او ورته پام کوی، خوښی او خوشحالی راولی. خو ناڅاپه دا هرڅهٔ پای ته ورسیدل. د هغهٔ دشمنانو هغه په سولۍ باندې ځوړند کړلو. مګر دا اختتام نهٔ وو. تاسو په خپله ولولئ چې دا هرڅه څنګه واقع شول او وګورئ چې د عیسی مسیح قیصه څنګه دوام لری!



ژبه: یوسفزی پښتو
*Language: Yousafzai Pashto (Pakistan)*
*ISBN: 978-94-93321-68-7*